لیکوال: هدایت الله هدایت
کاپی ایدیت/نشر : ago-team
maqalat@afghan-german.de

نیټه ۱۵-۱۰-۲۰۱۰

# یو میلیارډ وږي انسانان و بشریت ته د « آزاد بازار» تحفه!



د شرم امپراتوري؛ «هغه کوچنی چي نن د لوږي څخه مري، وژل کیږي »
د اکتوبر شپاړلسمه د فاو( FAO ) Food and Agriculture Organization of UN یا د غذا او زراعت د سازمان د تأسیس نېټه ده . دغه ورځ هر کال د غذا د نړۍ والي ورځي په نامه لمانځل کیږي . فاو چي په نړۍ کي د لوږي د امحاء سره د مبارزې د لارو چارو لټول د خپل سازمان اصلي هدف ټاکلی دئ د غذا د حق په اړه د ملګرو ملتو د سازمان تر ټولو لویه تخصصي مؤسسه ده . ددغه نهاد بنیاد په ۱۹۴۵ م کال کي په همدې ورځ د کاناډا د کیوبک په ښار کي Quebec City اېښودل سوی او نن ۱۶۹ هیوادونه په هغه کي غړیتوب لري .

په ۱۹۴۸ م کال کي د بشر د حقوقو نړۍ واله اعلامیه د لومړي ځل د پاره و غذا ته د لاسرسي حق د بشر د حقوقو یو بنیادي حق و ګڼه او دولتونه یې په دې مکلفه و بلل چي و غذا ته د خپلو اتباعولاس رسي تأمین کړي. وروسته بیا همدغه اصل د نړۍ واله میثاقو جز وګرځېد او په ۱۹۶۶ م کال کي د ۱۵۶ هیوادو لخوا تصویب سو.

و غذا ته د انسان اړتیا یوه بیولوژیکي تقاضا ده . هر انسان په هماغه اندازه چي و اوبو او هوا ته احتیاج لري، د ژوند د بقا د پاره و غذا ته هم اړتیا لري . و غذا ته لاسرسي نن دبشر د حقوقو د مجموعې څخه یو نه بېلېدونکی او اساسي جز ګڼل کیږي . یو زیات شمېر نړۍ وال نهادونه سته چي د غذا د حق د اعادې په عرصه کي مصروفه دي ، ددې ټولو په سر کي په ملګرو ملتو پوري تړلی همدغه د فاو په نامه د غذا او زراعت سازمان او د نړۍ د غذایي پروګرام دي . د فاو سازمان و بشر ته د غذایي امنیت په هکله د نړۍ والي ټولني و ذهني انسجام ته تحرک ورکوي تر څوپه نړۍ کي پر لوږه او فقر باندي غلبه حاصله سي . خو ددغه سازمان د ټولو تلاښو سره سره د غذا د امنیت مسئله نن په نړۍ کي د یوه جدي معضلې په حیث پاتې ده . د سرمایه دارۍ په پرمختللي هیوادو کي عموماً « د بیان د آزادۍ حق»، د « دین او مذهب د آزادۍ حق» او نور ډېر مدني او فردي آزادۍ په رسمیت منل سوي دي ، خو « و غذا ته د لاسرسۍ د آزادۍ حق» نسته . اساسي پوښتنه داده چي آیا دغه نهادونه به و کولای سي په نړۍ کي د مرګ او ژوند تر منځ دغه روانه غمیزه په دغه اوسني حاکم سیسټم کي اداره کي ؟ آیا هغوی به په دې و توانیږي د لوږي او فقر بنیادي عوامل او ریښې له منځه یو سي ؟ ددې پوښتنو ځوابونه روښانه نه دي . هغه څه چي روښانه دي هغه دا چي غذا او د انسان امنیت د نړۍ د امنیت او د هغه د سرنوشت سره غوټه سوی دئ او دغه شاني پیوند نړۍ واله ټولنه متأثره کړې ده .

د معاصري نړۍ د ځانګړتیاوو څخه یو هم د هغه موضوعاتو اهمیت دئ چي د انسان د امن سره تړاو لري البته دامنیت مسئله یوازي په هغه عام چوکاټ کي نه ارزول کیږي لکه څنګه چي معموله ده، بلکه د اقتصادي او اجتماعي ژوند په ډېرو نورو ابعادو کي هم داسي مسائل سته چي د امنیتي د یدګاو له نظره و هغه ته پاملرنه کیږي. په دې لړ کي غذا خپل خاص ځای پیدا کوی. ددې حاکم نظام د ورستیو مالي بحرانو په روښنایی کي د هر


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اړخيز امنيت د تأمين د پاره غذايي امنيت زياته اهميت پيدا کړی دئ . دغه پاملرنه نه يوازي د محلي اوملي مواردو په خاطر بلکه په نړی وال ډګر کي د غذا سياسي او امنيتي اړخونه تر ټولو زيات برجسته دي . غذا ، سياست او د نړی امنيت يو د بل سره اخښل سوی او يو د بل سره تحليل او تجزيه کيږي.

د فاو (FAO ) په تازه خپور سوي ګزارش کي ويل کيږي چي په نړی کي همدا ګړی تر يوه ميليارډ زيات انسانان وږي دي . د نورو احصايو له رويه د هغه انسانانو شمېر چي د غذا څخه محرومه او د لوږي په مرګوني منګولو کي را ګير دي او يا د سوء تغذي سره لاس او ګريوان او د هغه د عواقبو څخه متأثره دي ، په دې ورستيو دوو لسيزو کي چي د سرمايي د ګلوبلايزيشن لسيزي ياديږي په بي درکه توګه زيات سوي دي . دم درحاله د نړی نفوس شپږنيم ميلیارډه تنو ته رسيږي چي نيمايي يې په ښارو کي ژوند کوي او پاتي نيما يي يې په کلو او باندو کي اوسيږي چي د ژوند د اړتياو د پوره کولو د پاره هغوی هم مجبوره کيږي کلي پرېږدي و ښارو ته را مات سي . ويل کيږي چي د نړی نيم نفوس د ورځي تر دو ډالرو په لږ پيسو ګزاره کوي او خپل ژوند په لوږه اوسوء تغذي کي تيروي ، يو ميليارډ انسانان د چښلو صحي اوبو ته او دوه نيم ميليارډه يې و دوا او د صحي لومړنيو مرستو ته لاسرسي نلري . د يو ميليارډ نه زيات انسانان بې کوره په خرابو کي، په متروکه ځايو کي پر سپين ډاګ شپې سبا کوي .

هغه نړی واله غونډه چي د فاو لخوا په ۱۹۹۶ م کال کي په روم کي جوړه سوه په هغه کي تعهد سوی وو چي تر ۲۰۱۵ م کال پوري به په نړی کي د فقر دغه موجوده شرمناکه رقم د سالمو تدابيرو په نيولو سره تر نيمايي پوري را کښته کوي .د رواني زريزي په پيل کي هم د ملګرو ملتو غړي هيوادونو د خپلي اعلاميي په ترڅ کي د لوږي د امحا پر تدابيرو باندي تاکيد و کړ. پنځه کاله بعد دغه هدف د نيويارک په نړی واله غونډه کي هم مطرح او پر هغه باندي ټينګار وسو . خو اوس ليدل کيږي هر څونه چي ډېر وخت تېريږي و دغه انساني لانجي ته د حل لاره د سراب غوندي نا رسه ښکاري او هدف ته نه رسيږي ، د وږو انسانانو رقم لا زياتيږي او فقر لا نورهم ورځ په ورځ د جهاني کېدو خوا ته ځان غزوي او د بېشماره انسانانو ژوند اخلي .

د لوږي او فقر د را ټيټېدو هدف ته د نه رسيدو علتونه په لومړي سر کي د آزاد بازار غير مسؤلانه قوانين دي چي د بازار د سود خورانو او لويومحتکرينو په ګټه کار کوي او وروسته دلته ددې کار د مخنيوي د پاره دبودجي کمي ښودل سوي ده ، يا په بل عبارت هغه لږ پيسي چي په دې لاره کي بايد وقف سوي وای هغه په عراق او افغانستان کي د امريکا داستعماري جګړو قرباني سوي دي، يا د هيوادو په بېحسابه پوځي لګښتو باندي لګېدلي دي اويا د وروستي نړی وال مالي بحران تر سر جار سوي دي . په داسي حال کي چي په نړی کي د يوميلیارډو انسانانو ژوند د غذايي بحران له کبله تر جدي تهديد لاندي دئ، د امريکا کالنى ۵۸ فيصده احتياطي بودجه په پوځي برخه کي لګيږي . د اينډيپنډنټ د موسسي د روبرټ هيګز (Robert Higgs) د قوله ويل کيږي امريکا يوازي په ۲۰۱۰ م کال کي ۸/۱۰۲۷ ميلیارډه ډالر يعني د يوه ټريليون نه زيات ډالر په پوځي اموراتو کي مصرف کړي دي .په ټوله نړی کي يې ۸۲۰ پوځي اډو ته موډرنه سلاوي تهيه کړي دي . د خبري آژانسو له قوله د نړی په تور بازار کي د ورځي ددوه نيم ميلیارډه ډالرو په بيه دثقيله وسلو او تجهيزاتو غير قانوني خرڅلاو، معاملي او سوداوي تر سره کيږي ، ددې وسلو څخه عمدتاً په هيوادو کي د ثبات د خرابي اود جنايت کارانه اهدافو او ټروريستي عملياتو د پاره کار اخيستل کيږي .

دبلي خوا بيا د مريل لينچ (Merrill Lynch Institute) په نامه يوې تحقيقاتي موسسې خبر ورکړ ی دئ چي د نړی د ثروتمندانو شمېر چي په ۲۰۰۶ م کال کي يو ميليون تنه وو د لومړي ځل د پاره په دې ورستيو کي دغه رقم و ۱۰ ميليونو کسانو ته رسېدلی دئ چي د تاريخ په اوږدو کي بې سارى وو . ددغه ۱۰ ميليونو ثروتمندانو ثروت ۴۱ زره ميلیارډه ډالر بر آورد سوېده . خو د لوږي څخه د ورځي يولک انسانان مري او د وږو انسانانو رقم تر پخوا درې سوه ميليونه زيات سوی او نن سبا تر ميليارډ اوښتی دئ .

فقر او لوږه د سياسي هدفو د دپاره

دوه کاله پخوا کله چي د جي ۸ هيوادو مشرانو په جاپان کي د نړی د غذايي بحران په هکله جلسه جوړه کړې وه ، په هغه وخت کي د نيويارک ټايمز ورځپاني کښلي وه چي « کوم غذايي بحران چي په نړی کي په سلهاوه ميليونه انسانان د فقر او لوږې سره مخامخ کړي دي ، نو دا داسي بحران نه دئ چي ګويا د طبيعت لخوا پر بشر باندي تحميل سوی او يا يوه آسماني ټکه دي وي، بلکه دا بحران پخپله د بشر دلاس محصول دئ . دغه بحران هم د انرژۍ په حوزه کي او هم د زراعت په برخه کي د غلطو سياستو او د بد مديريت نتيجه ده ... امريکا او اروپا ددغه بحران اصلي عاملين دي »...


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

په واقعیت کي د پانګي اچوني لوی کنسرنونه، د تقاعد صندوقونه او هغه لوی بانکونه چي د اسهامو په خرید او فروش کي فعالیت کوي نن د یوه سره د خپلو ګټو د پاره د غذایی بحران او د غذایی موادو د نرخ د فاجعه آمېزه جګېدو اصلي مقصرین دي . دغه کنسرنونه لکه د پخوا پشاني حالت کي نه دي چي یوازي به یې د تیلو او سروزرو پر نرخو باندي شرطونه تړل ، بلکه نن هر هغه څه چي خوړل کېږي د غنمو او غوښو، څخه نېولې بیا تر رومیانو او حتی دخوګ تر کولمو ، دلبندانو او کوټیانو پوري لا مخکي تر مخي یې سوداوي کوي . د خوړو او اومو موادو په سر د بورس په بازار کي افسانوي رقم پیسې تا و بالا کوي ، د غنمو ، وریجو ، دانو او نورو توکو د نرخ د لوړېدو باعث ګرځي، په دې ډول ده چي همدغه لوی کنسرنونه، مالي نهادونه او حتي کوچني سهم لرونکي حلقې د خپلي ګټي د پاره ددغه موادو محتکرین دي چي په لوی لاس د نړۍ په فقر او لوږه کي ونډه اخلي .

بي بارک د امریکا د سانفرانسسکو د نړۍ وال فوروم معاون او سیاسي کارپوه لا پخوا ویلي وه چي « تاریخي مبارزه په مخ کي ده ، داسي مبارزه چي په پای کي به ددې خاوریني کرې دانسانانو راتلونکې ټاکي . داسي مبارزه چي تر دغه جاري جګړو به لا ډېره کارنده او ټاکونکې وي کومه چي د تیلو، ټروریزم یا د سیاسي ایډیالوژیو د پاره تر سره کیږي. ددغه مبارزې محوري ټکی په دې مسئلې کي پروت دئ چي دا به څوک وي چي په نهایت کي به د نړۍ د غذایي موادو کښت، تولید او د هغه د تقسیم کنټرول به په لاس کي نیسي ».
هنري کسینجر چي د امریکا کیندلی او کهنه پیخه سیاستپوه دئ نوموړي هم ان په تېره اویایمه لسیزه کي ویلي وه چي : « هغه څوک چي د تیلو کنټرول په لاس کي لري په داسي موقعیت کي به ځای نیسي چي ټوله ملتونه کنټرول کړي، خو هغه څوک چي غذایي مواد کنټرولوي، نو هغه به بیا ټول ا نسانان کنټرول کړي » .

پروفیسرجین زیګلر (JEAN ZIEGLER) سویسي ټولنپوه او سیاست دان چي د جهاني کېدو د طرحي سره یو تر ټولو مشهور ه منتقد دئ، د کلو راهیسي یې د لوږي اوفقر پر ضد مبارزه کړېده ، نوموړی د اوږدې مودې د پاره د خپل هیواد په ملي شورا کي د خلکو نماینده وو . هغه د ۲۰۰۰ م او ۲۰۰۸ م کلو په مابین کي د غذا د حق په چارو کي د ملګرو ملتو د سازمان خاص ګزارشګر په توګه وظیفه اجراء کړې ده . پروفیسر زیګلر په ۲۰۰۸ م کال کي د بشر د حقوقو د مشاورانو د انجمن غړیتوب هم تر لاسه کړی دئ. زیګلر په خپل مشهور « د شرم امپرا طوري» (The Empire of Shame) په نامه کتاب کي چي نړۍ وال شهرت لري د لویو قدرتو لخوا د نړۍ د بیا فیوډالي کېدو و خواته د شوه کېدو اندېښنه بیان کړې ده . هغه وایي نړۍ په دې وروستیو لسیزو کي بې درکه ثروتونه تر لاسه کړي دي، نړۍ واله سوداګري په دغه تېر ۱۲ کالو کي درې چنده زیاته سوې ده، د نړي ناخالص ملي تولیدات نیژدې دوه واره زیات سوي دي . بشر په تاریخ کي د اول وار دپاره پرعیني کمبوداتو باندي غلبه حاصله کړې ده، په مادي لحاظ بشر د عامه سوکالۍ و رویا ته ځان رسولی دئ . خو ددې ټولو سره سره همدا اوس د نړۍ د فیوډالي کېدو خوا ته یوه هر اړخیزه او بد خویه هڅه روانه ده . د نوي مستعمراتو اربابان، څو ملیتیزه کنسر نونه ، لوی بانکونه د نړۍ ثروتونه په خپل تصرف کي راوړي دي . دغه فیوډالي بابایي د فرانسې د انقلاب د اریسټوکراسۍ د زمانې په تناسب زره ځله بې رحمه سوې ده .

زیګلر وایي نن سبا چي د کنسرنونو د مشروعیت د نظریې سره واشنګټن موافقه کړې ده . د دغه توافق په اساس په ټوله نړۍ کي باید د لیبرالیزه کېدوه پروسه تکمیله سي. یعني داچي ټوله شیان، ټوله سرمایه او د ژوند په هره برخه کي د اجتماعي خدماتو ټول بهیر باید شخصي او د ګټي پر اصولو بنا سي . په دې توګه ددې پسته به حتی د اوبو غوندي د یوې داسي حیاتي او دعمومي استفادې ماده به نور داسي څه نه وي پاتې . د انسانانو، د حیوانانو او نباتاتو ژینونه هم لا هغوی په خپل تصرف کي راوړي اود ګټي د پاره یې ثبت کړي دي . ټوله شیان د شخصي ګټي د پاره سودا ته لویږي . و دې هدف ته د رسېدو د پاره کنسرنونه د ډله ییزه وسلو د جملې څخه دوه ډوله وسلې په کار اچولي دي . ددغو دوو وسلو څخه یوه یې لوږه ده او بل یې پور، ددغه دوو وسلو عملي کول و بشریت ته خورا وحشتناکه عواقب لري . په داسي حال کي چي د نړۍ ننی اقتصاد ددې توان لري چي په آساني سره ان و ۱۲ میلیارډه انسانانو ته خواړه برابر کړي، خو د ور و انسانانو شمېر تل د زیاتېدو په حال کي دئ . د غذا د نړۍ وال سازمان د ګزارش په اساس همدا اوس هره ورځ یو لک انسانان د لوږي او یا د هغې د عواقبو څخه مري . یعني همدا لحظه چي تاسو دغه لیکنه لولی په هر پنځو ثانیو کي یو تر لسو کالو کوچنۍ ماشوم د لوږي او سوء تغذي څخه سا ورکوي . دلته د غذا کمبود نسته، هیڅ یوه طبیعي بلا یا داسي کومه آسماني ټکه نه ده لوېدلې او نه هم ددې ډله ییزه سلاخۍ په خاطر د جبر او یا تقدیر کومه داسي خبره سته چي په مساجدو او کلیساوو کي وعظ وربandي کیږي . هغه کوچنی چي نن د لوږي څخه مري ، سم دم وژل کیږي . داسي اټکل کیږي که بشر په دې و نه توانیږي چي خپل ځان تر راتلونکوڅلوېښتو کلو پوري د نیو لیبرالیزم « د آزاد بازار» د هیولا څخه خلاص نکړي ، دغه رقم به ۳۰۰ ٪ زیات سي .


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د نړۍ وال بانک د احصايي د رويه پروسږکال د نړۍ تر ټولو لوی کنسرنونو په سلو کي ۵۲ د ټولي نړۍ پر توليداتو باندي تسلط لاره . دغه مالي سرمايه د څو تنو غربي اليګارشيو په لاس کي لوېدلي او دوی ځانونه دداسي قدرت خاوندان ګرځولي دي چي د بشريت په تاريخ کي هيڅ يوه پاچا، يوه قيصر يا کوم پاپ په واک کي نه درلوده . غرب چي د نړۍ د نفوسو څخه نيژدې ات نيم په سلو کي جوړوي او تر ټولو يو کوچنی اقليت دئ، دا ۵۰۰ کاله کيږي د ځمکي پر کرې باندي خپل قدرت چلوي او څو سوه کاله کيږي د برده ګانو په خرڅولو او استعماري کړو وړو بوخته ده . د جنوب ملتونه د غرب و سرمايه داره او استثمارګره کنسرنونو ته د مالي ډيکټاټورانو په سترګه ګوري . دا ځکه چي هغوی د سر په سترګو ويني هغه کسان چي د نن ورځي متمدنه برده لرونکي دي هغوی د بورسو په بازار و کي ځانونه ځای کړي دي، دا دوی دي چي په خپلو نيرنګو او فريب کاريو سره په نړۍ کي د لومړنيو موادو بښارګونه په لاس کي نيولي او نرخونه يې ور ټاکي . که څه هم هغوی د سترګو څخه نيهامه دي خو همدا دوی دي چي نن د نړۍ د يو ميليارډ او دوه سوه ميليونو انسانانو د لوږي مسؤليت په غاړه لري . غرب و دغه ظالمانه کړو ته چي پر جهان باندي تحميل سوی دئ، هغه ته «نوی نظم » وايي ، خو دغه «نوي نظم» په چور ، چپاول، فساد او جګړو باندي پايي ، همدغه کنسرنونه دي چي په ډيرو هيوادو کي يې فاسد عناصر د ډيموکراسۍ په نامه د قدرت پر ګدۍ کښېنولي دي تر څو خپل استعماري قرار دادونه ورباندي امضا کي!

بشري ټولنه په دې پوهيږي چي په نړۍ کي د لوږي غميزه او د غذا و بحران ته خاتمه ورکول ناشُده کار نه دئ ، ځکه د هغه عوامل معلوم او د خاص هدف د پاره تصنعي جوړ ه سوې ده ، خو له منځه وړل يې ددغه اوسني ظالمانه نظام په بطن کي زموږ تر تصور زيات مشکل کار دئ . ځکه دا بحران د همدې غير عادلانه نظام زېږنده ده . د فقر اولوږي بحران او د هغه غزېدنه نن داسي خطرناکه مسئله ده چي په نړۍ واله کچه خاصتاً په سرمايه داري هيوادو کي هم خورا شديد اقتصادي، امنيتي او اجتماعي ګډوډۍ را منځته کولای سي . په اوسني شرايطو کي د ټولنيز عدالت تأمين يو ستراتيژيک ضرورت دئ چي په انسانانو کي و سوله ييز ژوند ته د اميد حس پياوړی کوي او د هغه خشونت او بلواو مخه نيسي چي عامل يې د نيو محافظه کارانو تحقير آمېزه او استعماري سياستونه دي . دا خبره بايد ياده سي چي د ټروريزم پر تحليل باندي ډېر په دې عقيده دي چي هغه مالي او اقتصادي بحرانونه، ډېوالي توبونه او بېکاری چي دلويو صنعتي غولانو او د څو ملتيزو لويو شرکتو او نورو شخصي مالي نهادو د يو ځای کېدو په نتيجه کي را منځته سوي دي، د بېکارانو څخه لوی لښکر جوړوي او هغوی دې ته اړ باسي چي په هر « ټرورېستي» کار لاس پوري کړي.

د زيګلر په عقيده ددې انساني بحران څخه د راوتو د پاره وار دمخه بايد ددغه سيسټم نظري مشروعيت يعني د کنسرانو سره د واشنګټن د يوځای کېدو او توافق او د طبيعت د اقتصادي کېدلو او يا په خپل قيد کي د هغه د راوستلو ايډيا چي يوه جنون آمېزه پديده ده بايد له منځه ولاړه سي . وروسته بيا ددغه اقليت واکمني چي دټولي نړۍ اقتصادي ښارګونه يې په خپله ولکه کي راوستي دي وشليږي، دا کار پخپله د وجدان د سرکښيو په نتيجه کي او د ټولنيزه قيامو دسازماندهي دلاري تر لاس لاندي نيول کيږي . داځکه چي دغه ننی نړۍ وال نظام و ټولو هغه ارزشو او دروښانفکرۍ د نهضت و ټولو هغه نهادو ته دپای ټکی ايښی دئ کوم چي تر دا اوسه پوري موږ د هغه تر سايې لاندي ژوند کاوه ، يعني د بشر د حقوقو د هغه لومړنيو ارزشونو مرګ . دلته به يا د کنسرنو د قدرت مزي سره شليږي، يا به د ډيموکراسۍ . کنه دغه تمدن هماغسي چي نن د ملګرو ملتو د منشور په ۱۱۱ مادو کي ثبت سوی دئ بالا ختميږي او د ځنګله قانون به حکم چلوي . دا يوه جدي مسئله ده که يې مخه و نه نيول سي د بشر راتلونکې د همدغه شاني يوې فاجعې سره مواجه کېدای سي .

پای

*********

مأخذ او منابع :

زما شخصي يادابښتونه او دغه لاندي لينکونه؛

http://en.wikipedia.org/wiki/Food_and_Agriculture_Organization
http://www.fao.org
http://en.wikipedia.org/wiki/Jean_Ziegler
http://www.bbc.co.uk/persian/world/۲۰۱۰/۱۰/۱۰۱۰۱۱_l۱۵_global_hunger.shtml


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ